درویش وردک

۱۷ اپریل ۲۰۱۶

## اته ویشتم مجلس(دخدای په دوستی کی)

د ۵۴۵ هجری قمری کال دجمادی الاخرپه نهمه ورځ شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل:

پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (اِنَّهُ جَاءَ اِلَیهِ رَجُلٌ فَقَالَ لَهُ اِنِّی اُحِبَّکَ فِی اللهِ عَزَّوَجَلَّ، فَقَالَ لَهُ اِتَّخِذِ الْبَلاءَ جِلْبَاباً، اِتَّخِذِ الْفقْرَ جِلْبَاباً)-« یوکس دپیغمبرصلی الله علیه وسلم خدمت ته راغی اوویی ویل: زه دخدای لپاره ستاسره مینه کوم، پیغمبرصلی الله علیه وسلم وفرمایل: پس دبلا په مقابل کی ځانته پوښښ اودفقرلپاره ځانته پوښښ تیارکړه». ځکه ته غواړی چی زما په صفت متصف شی. دمحبت شرط دبلا اوفقرسره سازګاری ده. ابوبکرصدیق(رضی الله تعالی عنه) چی په ریښتینی سره درسول الله صلی الله علیه وسلم حب ته یی دزړه په کورکی ځای ورکړی و،خپل ټول شته یی دهغی په لاره کی انفاق کړل، اوپه فقرکی یی له ده مبارک سره سمی وکړه،ترهغی چی یوی عبا ته هم ارشو! په ظاهراوباطن په پټه اوښکاره دهغی سره موافق اوهمراه شو، په پایله کی دهغی حضرت په صفت سره متصف شو. اما ته ای دروغجنه، دصلحاودمحبت اودوستی ادعاکوی، ولی درهم اودینارډی له دوی پټوی! اوپه دی حال سره غواړی دوی ته ورنیږدی شی. هوښیاراوسه اوپوه شه چی داډول محبتونه ددرواغودی، ځکه محب له محبوب څخه کوم شی نه پټوی، اوهغه څه چی په لاس کی لری ددوست په لاره کی یی نثارکوی.

فقرتل له رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) سره ملازم و،اویوه لحظه هم تری لیری نه و، په همدی بنسټ یی فرمایلی: (اَلْفَقْرُ اَسْرَعُ اِلی مَنْ یُحِبُّنِی مِنْ سَیلِ الْمَاءِ اِلی مُنْتَها هُ)-« فقربه ترسیلاب څخه په تیزی کی زما ددوستانوخواته را تویی شی».

حضرت اُم المؤمنین بی بی عائشه صدیقه(رضی الله تعالی عنها) فرمایی: ترهغی چی پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) زمونږ ترمنځ و، مونږپه عسرت اوتنګدستی کی ژوند تیراوه، ولی کله چی دحق تعالی په امر زمونږله منځ یی رحلت وکړ، دنیا مونږته مخ راواړاوه اوفریمانه نعتمونه زمونږ خواته راتویی شول. پس درسول اکرم(صلی الله تعالی عنه) دوستی له فقر اودخدای دوستی له بلاواورنځونو سره مل ده.

ازیکی ازبزرگان قوم منقول است: بلا برولاء ګمارده شده است، تااینکه هر مدعی دروغګویی این ادعا رانکند، وهرمنافق ورياکاری لاف محبت خداورسول خدارانزد. پس ای مدعی دروغین ازادعای پوچ خودبازګرد.اګرتوانستی درادعایت صادق باشی، نزدمابیا، وګرنه ازما دروشو. دینارقلب وناروای خودرابه صیرفی ماهرنشان مده که ترارسوا

می سازد. بادُم مارودیگردرندگان بازی مکن، که موجب هلاکت خواهندشد. اگرافسونگری رامیدانی آنگاه به مارنزدیک شو. واگرتوان دفاع راداری آنوقت به درنده نزدیک شو. راه حق پیمودن، نیازمند نورمعرفت وصدق است. نورمعرفت دردل صدیقین تابان است وشب وروز درخشان وهیچگاه غروب نمی کند.

دقوم دبزرګانوله یوه څخه داسی روایت دی: بلاء پرولاءو نازلیږی، ترڅو هردروغجن مدعی دغه ادعاونکړی، اوهرمنافق اوریاکار دخدای اورسول دمحبت لافی ونکړی. پس ای دروغجنه مدعی، له خپلی پوچی دعوی څخه تیرشه. که وتوانیدی چی په خپله ادعا کی صادق اوسی ، نوزمونږخواته راشه، اوکه نه له مونږه لیری اوسه. خپل قلب دیناراودرهم ماهرصراف ته مه ورښئیه،چی رسواکوی دی. دماراونوروځیرونکو په لکی سره لوبی مکوه، چی دهلاکت سبب دګرځی. که په افسونګری پوه یی نو مارته ورنیږدی شه. اوکه ددفاع توان لری نو درندګانوته ورنیږدی شه. دحق دلاری طی کول، دمعرفت اوصدق نورته اړین دی. دمعرفت نوردصدیقینو به زړونو کی په څلا دی اوشپه اورځ روښانه اوهیڅکله غروب نکوی.

(ای دخدای بنده) دهغومنافقینوسره چی دخدای په افعالو معترض دی، لیری اوسه، هوښیاراوسه اوداوسنی زمانی اکثرو اهل ته مه نیږدی کیږه، چی دوی دریاء جامی په تن کړی. دتفکرهنداره واخله اوځان پکی وګوره، اوله خدایه وغواړه چی دځان پیژندنی اوبل پیژندنی پوهه درته اعطاء کړی. ما خلق اوخالق آزمایلی، دخلکوسره پرته له شرمه بل څه نه و، اوله خالق سره ټول خیراوعنایت می ولید.

لویه خدایه، مونږداشرارو له شره په امان کړی، اوددنیا اوآخرت خیرراته روزی کړی، زما علاقه له تاسوسره زما دګټوپه خاطرنده، بلکه ستاسو په فکرکی یم، اوداسی شی چی ستاسو په ګټه وی ، له تاسو نه اخلم. زه دومره شته چی تاسو ته اړ نه وم، په لاس کی لرم، اوهغه څه چی لرم یا دحلال کسب حاصل دی یا په حق دتوکل پایله ده. زه انتظارنلرم چی کوم شی ماته راوړی، دهغه منافق په څیر چی په تاسویی تکیه کړی اوخدای یی له یاده ایستلی.

زه دخلکو دآزماینت محک(تله) یم، خپل ناخالصه زرماته مه وړاندی کوی، چی زه یی ښه اوبد دحق سبحانه وتعالی په توفیق سره تشخیص ورکوم. زه ستاسو دخلاصون غوښتونکی یم، پس دسندان په څیراوسی، ترڅو ستاسو ماغزه، شهود،اودنفس هوا اوشیطان پری وټکوم. له بدو دوستانواوقریبانو مولیری کړم. له دی دښمنانوڅخه خدای ته پناه یوسی، څکه بریالی هغه کس دی چی خدای ته متوسل شوی، اوخواراوذلیل هغه څوک دی چی له خدایه لیری وی. بلاوی اوآفات ډیردی، ولی دهغونازل کوونکی واحد دی، همدارنګه چی بیماری ډول ډول دی ، ولی طبیب یودی.

ای معنوی ناروغانو، څانونه رینیتینی طبیب ته وښئی، اوهرکارچی له تاسوسره کوی، پری اعتراض مه کوی، څکه هغه ترتاسو ډیرپرتاسو مهربانه دی. پروړاندی یی تسلیم اوسی اوخوله په ګیله اواعتراض مه خلاصوی، ترڅو ددنیا اوآخرت خیرترلاسه کړی. په دی حال کی قوم دخدای پروړاندی ساکت اوبی ارادی وی، منتهی په ډیرخوف اودهشت کی قرارلری، اوهرکله که داحالت دوام پیداکړ نوهغه وخت دخدای په اراده په نطق راځی، داسی لکه دقیامت په ورځ چی جمادات دخدای په امر په خبرواونطق راځی. پس هغوی هم دجماداتوپه څیر، پرته دخدای له غوښتنی، هیڅ هم نه وایی، اوپرته له هغه څه نه چی ورته اعطاء کیږی، بل څه نه غواړی. ګشایش(پراخی) نلری مګرهرکله که دحق له جانبه ورته دخاطرانبساط پیداشی. زړونه یی دفرشتګانو له زړونو سره پیوند خوری، هغه فرشتګانی چی حق تعالی یی په هکله فرمایی: (لَایَعصُونَ اللهَ مَآ اَمَرَهُم وَ یَفْعَلُونَ مَا یُؤمَرُونَ)-« په هغه څه کی چی پری امرشوی، دخدای نافرمانی نکوی، اوپه هرڅه چی ګمارل شوی ترسره کوی یی، سوره تحریم آیه ۶».

له فرشتګانوسره وصل کیږی، اودفرشتو له مقام اومنزلت څخه هم لوړځی، اودوی ډیری دخدای په پیژندنه نائل کیږی. ترهغی چی فرشتی یی به خدمت کی قرارنیسی. اوله هغوی بهره اخلی، اوداپه دی خاطردی چی دالهی حکمت چینی

یی په زړونه راسپری دی. زړونه یی له هرډول آفت اوشائبی څخه پاک کیږی، اودا روحانی فیض آن ددوی دبدن غړو اوجوارحو ته سرایت کوی. که ددوی مقام ته درسیدو غوښتونکی یی، لازمه ده چی لومړی داسلام په تحقیق او دهغی په بنسټیزو اصولوپه پيژندلو همت وکړی، اوبیا له ټولو گناهونوڅخه لیری اوسی هم په ظاهر اوهم په باطن کی،له دنیا څخه دزهد اوورع رعایت،اودحلالو مباحو اوحراموپيژندل خپل همت وگرځوی، هغه وخت به دحق دقرب په واسطه له ټولی دنیا څخه استغناومومی، اوکله چی وتوانیدی دی مرحلی ته ورسیږی، دخدای فضل به دربانـدی تویی شی، اودخیراوبرکت دروازی به یی درته پرانیستل شی. لومړی دنیا دربانـدی تنگوی، بیا دکمال په غایت کی درته گشایش(پراخی) حاصلیږی. البته دصلحاواو صدیقینو څخه په شمار کسان دی چی دخدای دازلی علم په روی دی عالی منزلت ته رسیدلی اوهغوی په دی حال کی پرته له خدایه په بل څه نه بوخت کیږی.
اوداسی کسان هم شته چی دنیا له دوی څخه په ټوله اخیستل شوی، ځکه دوی دددی غوښتونکی دی چی یوازی به خدای مشغول وی، اوداچی کوم شی له دنیا څخه ورکړل شی اوپرځان یی مشغول کړی ، په ویره کی دی، اوداسی کسان هم نادراودگوتو په شماردی، درسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرموده ده چی پدی هکله فرمایی: (ربِّ اَحْیِنِی مِسْکِیناً وَاَمِتْنِی مِسْکِیناً واحشُرنِی مَعَ الْمَسَاکِین)-« لویه خدایه مامسکین ژوندی لره، اومسکین می مړ کړه اوله مسکینانوسره می محشورکړه».
له دنیا څخه زهد غوره دی، ولی مومن نشی کولای چی له خپل نصیب څخه هم مخ واړوی، ولی دهغی لپاره حرص نکوی اونه یی په طلب کی بیړه کوی. قلبا اوباطنا له دنیا بیزاره دی، په ظاهره په هغه څه چی مأموردی بوخت دی، پوهیږی چی هرڅه چی یی نصیب وی ورته رسیږی، نوځکه یی په طلب کی حرص اوآزنلری. هرکله که مومن دنیا ته اعتناونکړه،نودنیا ورپسی راځی اوځان یی پروړاندی خواراوزبون کوی، اودنیا له ده غواړی چی هغه ومنی.
(ای دخدای بنده) ته هغه ایمان ته ضرورت لری چی تا دحق عزّوجلّ لاری ته رهنمایی کړی، اوداسی یقین ته اړیی چی پرهغی دی ثابت وساتی. ددی سیرپه پیل کی اول دزرو کڅوړی، بیا ایمان ته ضرورت لری، دمکی دلاری خلاف چی ځینی خلک وایی اول ایمان لازم دی بیا دزرو کڅوړه، همدارنگه له سفیان ثوری(رحمت الله علیه) څخه روایت دی چی کله یی لومړی دعلم په زده کړه پیل وکړ دزرو کڅوړه یی ترملاوه، چی پنځه سوه دیناره پکی و، له هغی یی خرڅ کاوه اوکله به یی په هغی گوازکاوه اوویل به یی: که ته نه وای نومونرته به یی پاملرنه نه کولای، ولی کله چی فارغ التحصیل شو اوخدای یی وپيژانده هرڅه چی ورسره پاته و هغه یی په یوه ورځ کی په درویشانو بذل کړل، اوویل یی : که آسمان داوسپنی په څیرسخت شی اوباران ترونه اوری، اوځمکه هم دډبری دتختی په څیر سخته شی اوهیڅ گیاه راشنه نکړی، اوکه په داسی حال کی دروزی په طلب پسی زیاروباسم نوکافربه وم(سُبحان الله).
پرتالازمه ده چی دحلال کسب په لاره کی زیاروباسی، اودمعیشت اسباب لاس ته راوړی ترڅوایمان دکامل شی، اوورسته له دی سببو حقیقی مسبب ته ورسیږی. انبیاء علیهم السلام اجمعین دکارپه لومړیوکی په کسب لاس پوری کړی اوپه ظاهری اسبابو هم متوسل شوی، ولی نهایتاً یی دتوکل مقام ته لاس رسیدلی دی. اودشریعت دجوانبوپه رعایت کولواودحق په عنایت یی توکل اوکسب سره جمع کړی دی. ای محرومه، کسب اوکارله لاسه مه باسه، په دی هیله چی هغه دبل په لاس کی دی، اوځان په نوروپه تکیه کولو سره ددرواغو متوکل مه گڼه. پوه شه چی گدایی اوپه نوروباریدل دخدای دقهراوعقوبت موجب گرځی. تکدی دومره ناوړه اوبده ده چی کله خدای عزّوجلّ غوښتل چی سلیمان علیه السلام په دی جرم چی یوی ښځی دده په کورکی څلویښت ورځی دیوی مجسمی عبادت وکړ، عقوبت کړی، دڅلویښتوشپولپاره یی په گدایی پسی کړ، چی دهری ورځی چی هغی ښځی دتمثال عبادت کړی و، هغه یوه ورځ گدایی وکړی.

دقوم غم په ښادی نه بدلیږی، زړونه اوسترګی یی نه قراریږی، اوآرام نه کوی، ترڅولقاءالله ته ونه رسیږی. دخدای دیداردوه ډوله دی، یوپه دنیا کی  دزړه اوباطن په سترګو، چی ډیرنادراوکمیافته دی، اوبل په آخرت کی دظاهر په سترګو. هرکله که دی موهبت ته ورسیدل نوټول غمونه یی زایل کیږی، اوځای یی فرح اوښادی نیسی، ولی مخکی له دی ددوی غم اومصیبت تلپاتی دی.

شیخ(رضی الله تعالی عنه) وویل: (ای دخدای بنده) نفس له شهواتومنع کړه اوپه پاکو خوړو هغه تغذیه کړه. پوه شه چی پاک خواړه یعنی حلال اومردارخواړه یعنی حرام. پس حلال پری وخوره ترڅوله سرکشی اوخودخواهی څخه لاس په سرشی، اوادب اومعرفت ته راشی. لویه خدایه مونږته لارښونه وکړه چی تاوپیژنو. آمین!

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقناعذاب النار»**